مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۹/۰۳/۰۱

# غزل

دښمن مې نه مني اشنا د آزادۍ سندرې
هر څه په خوله که مې راځي د خپلواکۍ سندرې

ما د تودې غېږې توده مينه ليدلې نه ده
ته رانه غواړې د آدم او درخانۍ سندرې

د سور دوزخ په اور ځان سيځمه جنت ته څمه
په تکبير وايم د جنګونو خونړۍ سندرې

اوس د کېږديو منظرې د غره لمن کې نشته
نه رمه ښکارې او نه اورم د کوچۍ سندرې

پسرلی راشه د موسم د بدلون زيرې راوړه
چې بلبلان وايي چمن کې د مستۍ سندرې

مصطفی پسرلی
01/03/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ